## 911 شمیرې ته زنګ وهل - بیړني زنګونه

**(د ترجمانۍ خدمتونه شتون لري)**

بیړنۍ حالت هغه وخت وي چې د یو فرد ژوند، خوندیتوب یا ملکیت په سمدستي توګه په خطر کې وي یا یو جرم د جریان په حال کې وي.
لاندې د هغه څه په اړه یو لارښود دې چې تاسو یې تمه کولئ شی او ستاسو سره د مرستې لپاره لارښووني هم شتون لري.

### د څه تمه کوئ شو

- سیستم تاسو د عامه خوندیتوب داعزام نږدې مرکز ته هدایت کوي.
- څوک، څه شی، چیرته: دا واضح کړئ چې تاسو ولې زنګ وهلئ او همدارنګه ددې وضاحت هم ورکړئ چې آیا هغه وضعیت لا هم جریان لري او که نه.
- د چلوونکي (آپریټر) پوښتنې به تاسو ته لارښوونه وکړي.
- دقیق ځای / پته ورکړئ چیرې چې مرستې ته اړتیا وي، په شمول د اپارتمان شمیره، د سوټ شمیره، او د ودانۍ دننه موقعیت په اړه معلومات.
- خپل نوم، اوسنی ځای او د تلیفون شمیره ورکړئ.
- پر کرښه پاتې شئ. تر هغه پورې تلیفون مه قطع کوئ تر څو چې آپریټر ستاسو تلیفون قطع کړی نه وي. حالات په دوامداره توګه بدلیږي او تازه معلوماتو ته اړتیا لیدل کیدی شي.

### لارښووني

- خاموش پاتې شئ – ساه واخلئ.
- ټولو پوښتنو ته ځواب ووایاست او څنګه چې درته لارښوونه کیږي هماغسې لارښووني تعقیب کړئ.
- کله چې د یو شخص په اړه معلومات ورکوئ نو د قد، جوړښت، جامو، او ځانګړو ځانګړتیاوو (داغ، ټاټو، د مخ ویښتو) په اړه معلومات یې شریک کړئ.
- کله چې د موټر اړوند وضاحت ورکوئ نو د موټر ډول، رنګ، سټایل (2 دروازې لرونکی، 4 دروازې لرونکې)، توپیري ځانګړتیاوې، د جواز پلیټ (شمیره - بشپړ یا جزوی، د پلیټ رنګ، حالت) پکې شامل کړئ.
- د حرکت مسیر د موټر او شخص دواړو (که پیاده وي).
- د ګرځنده تلیفون کاروونکي: ستاسو پته آپریټر ته نه ښکاري؛ ګرځنده تلیفون به په عرض البلد او طول البلد ډول لېست کړل شي.

## د غیر بیړني حالت زنګونه – 242-COPS (2677)

**(د ترجمانۍ خدمتونه موجود دي)**

غیر بیړنۍ حالت هغه حالت دی چیرې چې د یو فرد ژوند ، خوندیتوب یا ملکیت په سمدستي خطر کې نه وي ، مګر د پولیسو غبرګون ته اړتیا وي.

### د غیر بیړني حالتونو ډولونه

- د استوګنې څخه غلا – د وخت په تاخیر سره یا په صحنه کې د مجرم نه شتون.
- سوداګریزه غلا - د وخت په تاخیر سره یا په صحنه کې د مجرم نه شتون.
- د لوړ غږ پارټي (مجلس)
- مشکوک فعالیت

### د تلیفوني راپور څانګه

- د موټرو غلا
- د وړو موټرو غلا
- د هویت غلا
- ورانکاري
- لوټماري
- ملکیت له لاسه ورکول

## Additional Resources

آنلاین راپور ورکول (یوازې په انګلیسي ژبه کې): https://www.cabq.gov/police/file-a-police-report-online

د APD اپلیکیشن: په ګوګل پلی یا اپل سټور کې اطلس ون وپلټئ

د سب سټیشن راپورونه: د حادثې راپورونه؛ د جرم راپورونه د شکمن په اړه د معلوماتو پرته

د اوریدلو یا وینا معیوبیت درلودل: د عامه خوندیتوب اعزام مرکز په TTY/TDD مجهز دی ترڅو ستاسو وسیلې سره اړیکه ونیسي.

د انګلیسي محدود مهارت: آپریټران په سلګونو ژبو کې د تلیفوني ترجمانۍ خدماتو ته لاسرسی لري.